صلاح الدین سعیدی ۲۰۱۸/۰۸/۲٤

# خیاطان او زه!

اختر مو مبارک او طاعات مو قبول.

بعضي وجودو او اندامو ته قیچي او برش او ګنډل ستندرد او دومره سخت کار نه وي. خو بعضي اندامو ته چي د ګېډې، نس، کوناټو، قد او ورنو تناسب متوازن نه وي خیاطي هم ګرانه او کله ډېر سخت کار شي.

د وطن حالاتو، د ای. اس. ای. او "قـــُم" دسایسو، د نړیوال استکبار جبروت او ظلم، د افغان ولس تاریخ، په وینو کي مزل، یو ظالم او جابر چي مرکزي، بیا بل او بیا بل، او هغه د مرحوم "عبدالرحمن پژواک" د زړه آواز چي: (چا یې ښادر لیډلای نه وه - او اوس د جمرود په غاښي ځي سرتور سرونه).

د رقص بسمل او د سیني پریکولو قصي او کانتینرونو او ژوندي ښخول چي را یاد شي نو بیا د خیاطانو سره همدردي راشي او زړه مي ورت خفه شي چي دوی خواران به د اختر د لمانځه په اداء کي له قیامه مسقیمه سجدي ته تګ ته څه نیکر وګندلای شي؟

دا کار راته په ده سخت ښکاري چي شپدي توی شوي او خلکو لیډلي. نو پر توی شوو شپدو به څه ژاړو او څنګه به خیاط دې ته پرتوک وګندي.

مونږ حلاتو ته په کتو او د ګردني د غلو شرارت ته په کتو او د جنرال زلمي وردګ د فجیع قتل او شهادت ته په کتو او د هغه د ځړولو نه مخکي د هغه د قلم او لیکوال د ګوتو پریکولو تهدیه کتو او د غزني د بانک د مدیر د ۵ منزله د ژوندي غورځولو ته په کتو او د طالب په نامه د مخامخ ناستي تر نامه لاندي د پاکستان د روان تجارت جریاناتو ته په کتو او د جناب مولوی عبدالرب رسول سیاف د ملای لنګ او امیر عبدالرحمن خان او امان الله خان د کرنو مغالطه او په سپینه ګیره د کلکانیانو. د شر یري ډلي سره د جناب سیاف هملاسي ته په کتنو مي د خیاطانو سره همدردي زیاته شي او ددوی یه ګران کار او ډیر ځلي د لازمي په موقع پوهي د غیاب په وجه او دا چي کار یي اهل کار ته نه دی سپارل او اوس ورته پرتوګل جوړل سخت کار دی نو د ارګ په خیاطانو او د هغوی په سخت کار خپه شم. خپه شم چي ملا به اوس پر تللي شي څه وکړي؟

نو د خیاطانو کار سره مي ورته زړه خفه شي او زړه مي پرې هم غوسه او هم وسوځي.

له ځانه سره وایم ی: خود کرده را نه درد است و نه درمان.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

او په خیال کې ورته وایم او کله لا ورته لیکم: که مو په موقع درست متناسب عمل کړای وای او کار مو اهل کار ته سپارلای وای، نو اوس به مو دې پرتوګوک ګنډلو ته حاجت نه وای. شته داسې موارد چې پرتوګ هم ورته نه جوړیږي، ځکه چې جوړیدای نه شي.

خو له دې ټولو سره سره چې کله په دې خبرې فکر کوم چې: جنرال صیب بجوه! هغه خط چې دې غوښته، هغه مو هم درته امضاء کړ نو اوس بیا هم ولې افغانستان ته توجه نه کوې او مسلح مخالفین مو خپلو شفاخانو کې تداوي کوې او...

نو یو وار مې وینښته په بدن ودریږي، وډارشم او له ځانه پوښتنه کوم: دا افغان لوري، پاکستان او جنرال بجوه ته کوم خط او کوم سند امضاء کړای چې افغان ملت پرې خبر نه دی او جنرال بجوه پرې خوشاله کړای شوای؟

هو دا مې د خیاطانو او د هغو د مشرانو مقابل کې حساس او بیا یې حتې د هغوی د غیر مشروع والې مستنداتو په ټولولو فکر او کار کول غواړم.

نو اول بله خبر: دا به زما عدم ثبات وي که په دم او هر قدم کې د وطن، ملت او ایمان مصالح او ملې ګټو ته د خالص اولویت معیار او تعهد؟

دا به یواځې زما حالت وي که نور به هم زما حالت لري؟

شرع ظاهر ته ګوري او الله تعالی پر زړونو آګاه دی.

الله ج دې وطن او خلکو، ایمان او عقیدې ته د خدمت توان راکړي. آمین